**د افغانستان ژغورنې ایتلاف؛ د افغانستان ژغورنه که د ډېرو پانګو ژغورنه!؟**



**خبر:**

«د افغانستان ژغورلو لپاره د ایتلاف عالي شورا» په نوم نوي ایتلاف د ترکیې په انقرې ښار کې خپل شتون اعلان کړ. دغه ایتلاف له اسلامي جمعیت، ملي جنبش او اسلامي وحدت حزبونو څخه جوړ شوی دی. د دغه ایتلاف له خوا په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي: د سختو نا امنیو له امله د نظام د له منځه وړلو، سیاسي کډوډیو، د دولت غیر قانوني کړنو او ملي وحدت ته د زیان رسېدو، د مخنیوي لپاره دغو دریو حزبونو هوډ وکړ چې دا شورا تاسیس کړي. هغوی اشرف غني د قانون پر ماتولو، غیر قانوني کړنو او شخصي غوښتنو تورن کړی دی.

**تبصره:**

«د افغانستان د ژغورلو لپاره د ایتلاف عالي شورا» له هغه ورسته جوړه شوه چې د دغه ایتلاف یو شمېر غړي د اشرف غني له خوا له پامه وغورځول شول او د دولت له سیاستونو او د اشرف غني له انحصاري قدرت څخه شکایت کوي.

اشرف غني، د ازبکانو د رایو لاس ته راوړلو لپاره جنرال دوستم خپل لومړی مرستیال وټاکه، خو اوس یې هغه لرې کړ. د تاجکانو د ملاتړ لاس ته راوړلو لپاره یې احمد ضیاء مسعود خپل ځانګړی استازی وټاکه، خو اوس یې صلب صلاحیت کړ. صلاح الدین رباني، چې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست دی، په وزارت کې ځانګړی صلاحیت نه لري، په وزارت کې ډېرې مقررۍ د چارو ادارې (اداره امور) له خوا کېږي، ډېرې سیاسي او ډیپلوماتیکې چارې د ملي امنیت شورا د مشاور حنیف اتمر او د بهرنیو چارو وزارت د معین حکمت خلیل کرزي له خوا کېږي او صلاح الدین یوازې د سمبول په توګه په بهرنیو چارو وزارت کې پاتې دی.

هغه وزیران او افراد چې محمد محقق یې په دولت کې لري، لږ واک لري او د محقق سیاسي او مالي قدرت نه شي ډېرولی. همدارنګه هغه هم له دولت څخه سر ټکوي. عطاء نور او اشرف غني چې په نوروز کې موقتاً خواږه شوي وو، دغه خوږوالي ډېر دوام ونه کړ او له ستونزو سره مخ شو او عطاء نور خالي لاسونه د ارګ شاوخوا ته کرځي. په شپو شپو د معنیتونو، سفارتونو او قنسولونو او له وحشته ډک خوبونه ویني، چې په بلخ کې یې امپراتوري ړنګه او بانګي اکونټونه یې له منځه ولاړل!

له شک پرته چې اشرف غني قدرت په ارګ، امنیت شورا، چارو ادارې، د ملي تدارکاتو او اداري اصلاحاتو په کمیسون کې منحصر کړی او د یو ځانګړي ټیم د ګټو ساتلو لپاره کار کوي او د هغو کسانو لاس او سترګې له شا تړي، چې په ټیم کې یې نه وي او مالي رګونه یې ځان ته ځانګړي کوي؛ چې په بله موقع کې به د اشرف غني په دغو کارونو خبرې وکړو.

خو څه وشول چې د کار پایله دا شوه چې اشرف غني په ماهرانه ډول خپلې موخې ته د رسېدو لپاره دا رهبران وکارول او وروسته یې د بې ارزښته لوبغاړو په توګه له ځانه وشړل!؟

اشرف غني دغه کار د امریکا په امر کوي او خپله د داسې غټو کارونو توان نه لري؛ ځکه امریکا د افغانستان د ښکېلاک له لومړیو دا هڅه کوي چې د مجاهدینو صلاحیتونه او قدرت دومره کم کړي، چې بې د دوی له موافقې هېڅ کار ونشي کړی او هغوی یې د بېلابېلو پروسو پر بنسټ له قدرته لېرې کړل او په خپل منځ کې یې په بې اتفاقۍ اخته کړل.

د دې تر څنګ، د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ډېر شمېر سیاسي حزبونه د دې پرځای چې د یو ځانګړي فکر، تعریف شوې تګلارې او یوې ځانګړې برنامې پر بنسټ سیاسي فعالیت وکړي، ډېری کړنې یې احساساتي او غریزوي دي. دغه حزبونه ثابت افکار نه لري او هغه احساسات چې سیاسي فعالیت ته یې لري، د یو فکر په قالب کې نه دي روزل شوي. منظم فکر نه لري، د باد په لګېدو، د تلې د پلې په تاوېدو او پېښو په رامنځته کېدو لاس تر زنې شي احساساتي کېږي عجیبې کارونه کوي او خپل دریځ بدلوي.

له یوې خوا احساسات او له بلې خوا د دنیا ژر تېرېدونکې ګټې (پانګې او څوکۍ ته رسېدل) د دغو حزبونو د سیاسي مبارزې بنسټ جوړوي. په ګټو کې د هر ډول تغییر په راتګ څېره بدلوي. د ټاکنو او غوړو وعدو په وخت کې له کوم فکري ګډون پرته له یو ټیم سره یو ځای کېږي او په جرات د ټیم ملاتړ کوي او هغه څه چې ښه او نېک دي، په خپل ټیم پورې تړي.

کله یې چې جیبونه یې له پیسو او بانکي اکونټونه یې له ډالرو ډک شي، بیا خیر او خیرت وي؛ خو کله چې امتیازونه لږ او یا صفر شي او له واک څخه لرې شي؛ په سنګر نیولو پیل وکړي او د «خلکو د ګټو د ملاتړ» نارې وهي، لاریونونه کوي او دولت ګواښي. په داسې حال کې چې دولتونه له احساساتي لاریونونو نه وېرېږي، بلکې له داسې لاریونونو وېرېږي چې تر شاه یې یو فکر او برنامه وي. هغه کار چې د افغانستان حزبونه یې نه لري.

جالبه دا ده چې قران کریم هغو انسانانو ته چې په احساساتي او غریزوي توګه خپلې چارې تنظیموي او د یو غیر منظم لیدلوري پر بنسټ خپل ژوند او سیاسي کړنې تنظیموي د «**شَرَّ الدَّوَابِّ**» په نوم یاد کړي، یعنې د ځمکې پر سر تر ټولو بد ژوی.که اسلامي جمعیت، ملي حنبش، اسلامي وحدت او د افغانستان نورو لویو او وړو حزبونو ځانګړی فکر، تعریف شوې تګلاره او پلان شوې برنامې درلودی؛ مثبت بدلون یې راوستلی شوی او د ځانګړي فکر او برنامې په لرلو د واک له دایرې څخه نه وتل او په دې ډول اسانۍ له ستونزو سره نه مخ کېدل. په داسې حال کې چې د دغه حزب مشرانو په تېرو شپاړسو کلونو کې د جهاد تر نامه لاندې غټې څوکۍ نیولې وې، جهاد یې د جیبونو ډکولو وسیله کرځولې وه او د جهاد تر نامه لاندې یې خپل بانګي اکونټونه ډک کړل او اوس یې بلند منزلونه له هرې کوڅې ښکاري.

په حقیقت کې که ددغو حزبنو یو شمېر مشرانو د جهاد له ارزښتونو سره خیانت نه وی کړی او له امریکا سره یې د شرم معامله نه وی کړې، هېڅکله له داسې برخلیک سره نه مخ کېدل چې داسې یو انسان چې ټول عمر یې په غرب کې تېر شوی او د عمل او فکر قبله یې غرب دی، په افغانستان کې واکمن شي او

هغوی له واکه لرې کړي. هغه څوک چې مېړمن يې مسيحي ده او تر اوسه د اسلامي اعمالو او شعايرو د ادا کولو په سمه طريقه هم نه پوهېږي، پر دغو مجاهدينو صاحبانو حکومت کوي.

نو ښه به وي چې د اسلامي جمعيت، ملي جنبش او اسلامي وحدت حزبونو مشران سر په ګرېوان کې ښکته کړي او فکر وکړي چې ولې داسې تورې ورځې پرې راغلې. له شک پرته چې د جهاد د ارزښتونو شاته اچول، د ډيموکراسۍ او سېکولرېستۍ ارزښتونو ته تسليمېدل، امريکايي برنامو ته غاړه ايښودل، ګټو او څوکۍ ته د رسېدو لپاره د «جهاد او مجاهد» له لقبونو څخه استفاده، بالاخره يوه ورځ خپله انسان پر ځمکه وهي.

په پای کې په دې ټکي پوهېدل هم مهم دي چې دغه ايتلاف هم موقتي دی او څه پايله نه لري، ژر به توپان راشي، دغه ايتلاف به له ريښو سره له منځه يوسي او د تېرو ايتلافونو په څېر به دغه ته هم د پای ټکی کېږدي؛ ځکه د ډېرو پانګو د ساتلو لپاره د اوسني ايتلاف هڅې بې ځايه دي، تر هغه چې واقعاً د يوې لويې موخې لپاره سياسي مبارزه وي.

نو تر هغه چې د سياسي ايتلافونو د چارو اساس د ګټو لاس ته راوړو او واک ته د رسېدو پرځای چې له سراب پرته بل څه نه دی؛ اسلامي ارزښتونه، د الله رضايت او تقوا پر بنسټ نه وي، د دغو احزابو ذلت او کمزورتيا به دوام ولري او وحدت يې پاشل کېږي. خو هغه ايتلاف چې سياسي چارې يې د الله سبحانه وتعالی د رضا او تقوا پر بنسټ وي، دا پياوړې اړيکې دي او اوس هم فرصت لرئ او هيله لرو چې د ليدلورو په بدلون سره مو ستاسو په لاس لوی خير په نصيب شي.

(أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ) [التوبه:۱۰۹]

**ژباړه:** *نو ستاسې څه ګومان دی، چې غوره انسان هغه دی چې د خپلې ودانۍ بنسټ يې د الله سبحانه وتعالی په وېره او د هغه د رضا په غوښتنه ايښی وي، يا هغه چې خپله ودانۍ يې د يو کمر په کاواکه لغم خوړلې غاړه باندې درولې وي او له هغه سره نيېغ په نيېغه د دوزخ په اور کې وغورځېږي؟ الله داسې ظالمانو ته هېڅکله لاره نه ښيي.*

**مصدق سهاک**

**د حزب التحرير ـ ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر غړی**

**۲۰۱۷م، د جون ۳۰ مه**